(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې چه د زمانې گردکار و نه د انسان د میل او د خواهش سره سم نه وي او د روزگار تنگ همیشه د انسان پخلاف لوبېږي او له همدې جهته دي چه په گرده دنیا کښې به هیڅوک داسې پیدا نشي چه د فلك گردش به په ټولو چارو د ده د خوښې سره برابر وي. او بنائي چه په داسې پېښو کښې د انسانانو قصور وي چه هغوی د دنیا واقعات په بد ډول وي او گردي پېښې د خپل خیال سره سم تفسیر او تعبیر کوي.

نو چاره په دې باندې منحصره شوه چه (مجید) خپل آخرینی تصمیم و نیسي، ځکه چه ددې کنډه رنډه مور (فاطمه) او وړې تېزې ورور (حمید دده) کفیل او پالونکی او مرستې ته اړ او محتاج وو او دوی په ده ته بانه کوله چه د کور او دورور او د مور غم و خوري، او که نه دري به له لوږې او تندې ځنې له لاسه ووزي.

ده غوښته چه مدرسې ته لاړ شي، مگر دا نو نيت او سلامت وظيفي له ده څخه نوره شي هم غوښتل او هغه داوچه د مورنۍ حق او د کورنۍ ضروریاتو ته هم پام ولري.

(مجید) مجبور و په هغه چه زړه ئې غواړي پښه کېږدي، او له تعلیم او تربیې ځنې لاس واخلي او د مکتب د تنگ او راتگ څخه پښه ونیسي، لکه چه هم داسې ئې هم وکړ او.

یوه ورځ صباگي (گهیځ) مکتب ته تللی، پخوا له دې څخه چه د مکتب ز نگ و واهه شي، د خپ دکلاس گرد و دوستانو او آشنایانو سره ئې ولیدل، دگرد و سره ئې خدای پامانی او وداع وکوه او خپل کتابونه او قلمونه او مشوانۍ او نور شیان ئې د هغوی په منځ کښې د یادگار په ډول و ویشل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پەدې تر دد ، او تند بذب کښ (حمید) بیا گستہ شو د قیقې ۏ و ب تللی و ، او هیڅ ئې ونه لیده چه (حبیبه) له ورا دهغه له هغو گردو حرکاتو ځنې چه په کور کښ ئې کول خبره شو یده ، او په مجرد دبهر وتلو دده څخه له کوره هغه سمد لا سه په کور کښ ننوتلی ، او « د (حمید) د انتحار علت » ئې او ستلی ، او د زهر کنه و ل ئې لید لی او هغه ئې په سر آ ۏ و لی دی !!! ...

نا څاپه ئې د (حبیبه) کړ یکه تر غوږه شوه چه و ائی :

... زه د جا ر شم حمیده ! زه هم د ستا سو په درد کښ آ خته یم . دا دی چه د ستاسو د ۏ اکتری دا اوله نسخه زه ۏ ومبی استعما لوم . هله زر شه راشه زما د ستر گو توره دا کتره ، چه د ستاسو دیاك عشق دامریضه د ستاسو د نسخې په استعما لو کښ څه غلطی ونه کړی !!! ...

په ... د داور ... ددې غږ (حمید) و پوهیدلو چه (حبیبه) دده خو ... ته ننو تلی ده ... ده ، او اوس ده باندې مسخر گی کوی او خاندي ...

... ی حونی په اوری رهی شو .

په مجرد دننوتلو په کور کښ له یوی هولنا که منظری سره مخامخ شو .

یعنی و ئې لیده چه (حبیبه) ځنکدن لری ، او لکه مار غوندې دې خوا ، او هغه خوا ناوینږی ، او ږغږی ، او نژدې ده چه ساه ئې و ووزی .

(حمید) په ډیره چالاکی سره د خپل دمحبوبی (حبیبه) سر له ځمکې څخه پورته کړی په غیږ کښ ئې ونیو لو ، او په ناره ، او سورو باندې سر شو ، او چیغې به ئې وهلې . مگر (حبیبه) باندې تیره شوی وه ، او کار له کاره وتلی و ...

(حمید) چه دا درد ناکه وضعیت ولید نو فی الحال ئې هغه پاتی شوی زهر چه کښنه ول پری کښکړ پاتی و ، په سر باندې آ ۏ ولی تر آخر یئې خاخکې پوری ئې وڅکلو او د (حبیبه) تر څنگه دزهر و له تاثیره و ځرخید .

په عین همدې وخت کښ چه د (حبیبه) ساه ددې په کوگل کښ خرها رلری ، او (حمید) لکه مار غوندې پخپل ځان باندې تاؤ نه خوری فشهار کوی ، بد بخت (مجید) هم ستړی ستو انه کور ته ورننووت ، او دخورا زیات خرهار او فشهار په اثر چه (حمید) له کوره څخه ئې واور یدو گر گیلی همغی خوا ته رهی شو .

